# آزاد
# شعرونه



جوڕونكي: قريشي صاحب

د جوڕيدو نيته: ١٤٠٥/٥/١٥

بسم الله الرحمن الرحيم

# [ ځانګړني ]

کتاب نوم: آزاد شعـــرونـه
لیکـوال: مصطفی قریشـی
د اړیکي شمیره: ۰۷۰۰۶۹۴۹۸۹
خپروندوي: هاشمی قرطاسیه
د چاپ شمیر: ۱۰۰ ټوکه
د چاپ کال: ۱۴۰۵

هاشمی قرطاسیه میرویس مینه ایکلینک سړک
کندهار، افغانستان
ګرځنده شمیري: ۰۷۰۲۹۷۵۴۸۰ - ۰۷۰۴۶۳۵۲۹۶

د چاپ ټول حقوق د خپرندوی ټولني
سره خوندي دی

# ســـــــريـــــزه

السلام عليكم ورحمة اللّٰه وبركاته

محترم لوستونکی: هیله لرم چي جوړ و روغ به اوسي. لکه څرنګه چي د کتاب د نوم څخه معلومیږي چي آزاد شعرونه یعني هر ډول او بیلا بیل شعرونه په دا کتاب کي د ځانګړو او مختصره ځایونو څخه را نکل شوی دي او په کتاب کي هیڅ ډول غیرقانوني څیز ندي لیکل شوی. دا کتاب کي چي کوم شعرونه راغلي دي شاعران يي عبارت دي له : قسیم بدری ، هیبتی ملنګ ، فاتح فرهاد ، حقمل او قریشي صاحب.

د ا کتاب د یادو شاعرانو د شعرنو څخه د قریشی صاحب په واسطه ترتیب شوی دي ، هیله ده چي په حفاظت کي یي مرسته او همکاري وکړۍ.

# څـــــه وکـــــړم

له حافظې نه به دي وباسم په زړه څه وکړم

چې مې ارام نه پرېږدي ستاپه بيلتانه څه وکړم

په زړه به غشه تيره کښيږدمه اوهيربه دي کړم

چې تويوي اوښکې په سترګو اوبانه څه وکړم

وخته له مادي زما خواږه ياران يو يو جداکړه

وخته وماته لار را وښايه چې زه  څه وکړم

چې  خپلو  پرېښودم  ترشا  دژوند  پرستړي  لاره

نو له پردو نه به ته ووايه ګيله څه وکړم

فاتح فرهاد دي چې په نشتون داسې مات رامات يم

نو ستا په ګونګو تصويرو به ګزاره څه وکړم

# بې اختیـــــاره سلـــګۍ

له خولې مې وځې بې اختیاره سلګۍ

ټوله شپه وکړم تـر سهاره سلګۍ

انـځـور دې ګـرځـوم له ځانه سره

ورتـه کـومـه زه بې شماره سلګۍ

د ورکـو لارو لاروی یــه راشــه

له مــدو کــړم له انتظاره سلګۍ

ګـرځـوم ستا ترخه یادونه زړه کې

خـندا مـې نسته کړم نګاره سلګۍ

غــمــونه ډیــر دې زه یــوازې یمه

تــوان نه لرم وهــم ناچاره سلګۍ

زما په شان داسې پر ملا رامات يې

وړمــه راوړمــه رنـګ چناره سلګۍ

ته چې رایـاد شې غلی غلی ژاړم

لالیــه و وهــم قــراره سلګۍ

# فکـــــري جګـــړه

د غفلت له خوب را ویښ شه زما وروره
ده فـکـري جـګـړه راغـلي مـو تـــر کوره

وخت حساس دی دومــره مه غافله کیږه
شه ځیـرک خطاء دي نکـړي ورتـه ګوره

عبثیاتو څـخـه ځان سـاتـه ای ګـرانه
له وخـت سـمـه ګـته واخله بد کـړه هیره

دا د عـشـق میني مجاز خـبـرې پریږده
شـه تـولني تـه اصلاح د سـتـرګـو توره

د تاریـخ پـانـي لـږ وڅـیـږه بیـدار شه
پند او درس واخله حـقـمـلـه ورته ګوره

# زلمـــــــی یمـــه

زه د دین ساتونکی یمه زه د دین زلمی یمه
ځکه د کافر جهان په سترګو کې اغزی یمه
ما د رب د عشق ادا د سر په بیه واخیسته
چا چې سر قربان کړ زه د هغو لاروی یمه!
خدایه! ستا لپاره مې ځوانۍ تېوته توته کړله
زه د تن په ترمو وینو رنګ یم ګلالی یمه!
هر رنګ ګړنګونو ته مې ووایه لبیک له زړه
ځکه د یـو چـا د مینې ځـلنده غمی یمه
خود به مې د عصر ناروا ښارونه نه مني!
زه خو د صحرا په ګردو خړ یم لېونی یمه
خدایه! زما وینه او ستا مینه سره ګډه کړه
بیا چې جنتو کې خوشبودار لکه رېدی یمه
ته چې ځنګه دې دنیا کې سمه برخه نه لرې
زه بریال هم تا غوندې ساده ساده سړی یمه

# پــــــه مثــــال

نـــهٔ دغـهٔ غـرونـهٔ نـهٔ دا ځـمکه نـيٍ کلان، پهٔ مثال
نهٔ هـم سپوږمۍ او نهٔ هـم لـمر دی د جانان، پهٔ مثال
دغـه منــم چـــي انبـــيا وه بـېـخي ښـــکلي تـولهٔ
خـــو يـــو هـــم نـــهٔ دی د نـبي آخـير زمـان، پهٔ مثال
نـــيٍ هـــم صديق او نـــيٍ عـمر او نـيٍ عثمان او علي
نـيٍ هـــم مقداد بـــن اسود نيٍ هـم حسان، پهٔ مثال
رب تهٔ ډېـــر ګران دی رب ډېـر ژر ناراضه کيږي بانديٍ
ځکه چـــيٍ نهٔ پيدا کـوي يـــيٍ بـل انسان، پهٔ مثال
نـــهٔ يـــيٍ عـــمار بـــن ياســـر او نـــيٍ بلال حبشي
او نـــيٍ انـــس بـــن مالـــک او نـــيٍ سلمان، پهٔ مثال
راســـخ مُـــلا حـــضرت ابـــوذر غـــفاري او جابـــر
ښـــکلي وه ښـــکلي وه خـونهٔ وه زموږ د ګران، پهٔ مثال

# لـــــوی کمــــال

تا چې معاف کړه دښمنان، یـو لــوی کمال دې وکړ
چې کړه را ټول دې افغانان، یو لوی کمال دې وکړ

د بــدو بـــدو ریــواجـو د بـندېـدلــو پــهٔ بـاب
چې دې صادر کړلـو فرمان، یـو لوی کمال دې وکړ

دا نــړېـدلـــې دېـوالـونه او پــرهــار ښـــارونه
چې دې نن سیال کړه د جهان، یو لوی کمال دې وکړ

هم دې پښتون هم دې فارسي هم دې بلوچ او ازبک
کړه دې راټول پر یــو سرخان، یو لوی کمال دې وکړ

پهٔ هــر یـــو ښـار کــې لهٔ حجابه ښځه کرکه کېدل
تا حیادار چې کــړه ځــوانان، یو لوی کمال دې وکړ

راسخ! مدام چـــې کـــړې دعا درته پهٔ نیمه شپه کې
تا تصفیه چـــې کــې کاروان، یـــو لوی کمال دې وکړ

# مـــاشـــومتـــــوب

نه هم غم و نه خفګان و ماشومتوب کې
ډک له خونده ژوندروان و ماشومتوب کې

د خوږې مورکۍ په غېږ کې به ویده وو
نا خبره له خپل ځان و ماشومتوب کې

سپېرې خاوري به مو باد کړې په سرونو
نه په ګټه نه تاوان و ماشومتوب کې

څوشېبې سره خفه بیابه خوشحال شوو
له دوکې نه خلاص یاران و ماشومتوب کې

دافاتح فرهاد که اوس داسي بې شور دی
ډېر شوخک و اوډېر وران و ماشومتوب کې

# استقــــــــلال

ازادي ده خپلواکي ده استقلال دی
د حریت وړانګې خورې دې بل مشال دی
د سکون لمر را ختلی زموږ پر زړونو
وطن ښکلی باجمال دی باکمال دی
د اسد څلورویشتم د بریا ورځ ده
دې کې مات هغه یاغي کفري اشغال دی
ګران هېواد کړله نسکور مغرور سرونه
هر بچی یې غزنوي دی او ابدال دی
غیرتي دی د دې خاورې هر ساتونکی
آتلوال دی اسلامپال دی جهادپال دی
سپین نظامه دا ستا شتون دي زرکلن شي
هر وګړی دي بې حده مینوال دی
څۀ زرین تاریخ مو جوړ کړلو بریاله!
چي کتلی مو ستر ویاړ دی او مرال دی

# سـتـرګـــــوکـــي

سرخېل د حسن ۀ پرته يې وه ښکلا سترګو کې
الله ﷻ يې ابښې وه يوه دنيا حياء سترګو کې
له نوره ډک ۀ لـه جبين نه يـې جمال څڅېده
ځلنده لمر ۀ، پړکېدله يـــې رڼـــا سترګو کې
لاس يې ۀ ډک له شفقت او زړه يې ډک له مينې
اُلفت اُلفت ۀ، وه يې مينه او وفا سترګو کې
د ښکلاګانو ۀ سمبول هم را ټول کړی ۀ خدای
د جهان ټول ښايست د ګران رسول الله سترګو کې
پيدا به نه شي ترقيامته بيا هغسې جمال
لکه چې کوم مې ۀ د ګران خيرالورا سترګو کې
چې په لېدلو به يې موم شول کاڼي زړونه
دومـــره اثـــر ۀ د امـــام الانبيا سترګو کې
چې چا به وليد نو به سعده شو مين وربانديې
عجيب کمال ۀ په رښتيا د مصطفا سترګو کې

# ازادی

کوم څـوک چي وي پۀ غيږه کي دمه، د ازادی
بـس کـړ ځـــوي مـدام هسکه شمله، د ازادی

د ميني محبت او ورورولئ خبري شروع شوې
چـــي راغـــله تــــر ښــارونـــو قافله، د ازادی

څلورويشت د اسد لکه اختر چـــي راځـــي دلته
لـــمانځـــو يـــې پۀ تکبير نعره، د ازادی

ډاکـــټـــر کـــۀ انجـنر دی کۀ امـــام کۀ کليوال
خـــوشـــحاله دي کـــوي خـــوږه کيسه، د ازادی

نظام مو دی خپلواک د چا خيرن لاس پکښې نشته
اصول مـــو شـــريعت دی کـــړو کـــــزمه، د ازادی

قريشي! قلم هـــم تـــر تـــور ټـــوپکه پۀ کم نۀ دی
کۀ وســـتايې زلـــمي پـــۀ ورځ او شپه، د ازادی

# وطـــــــن

تاریخ ته یاد دي سر سپارلي آتلان د وطن
چې یې پۀ وینو باندې شنۀ سوله ګلان د وطن

دا چې ویاړونه بۀ یې پاتې وي ژوندي تر قیامت
دوی وه ریښتیني رِجال دوی قهرمانان د وطن

ځلند تاریخ بۀ یې تلپاتې پۀ سینه کې ساتي!
یو حقاني شیخ صاحب، بل حاجي منان د وطن

ځان تۀ ځانګړي مفصل زرین بابونه لري!
تېوته چې پر پاک دین شوۀ فدایان د وطن

مور قرباني تۀ ؤ حاضر او یو حاضر په هر دم
موره یو ربه! سرښندونکي عاشقان د وطن

زه به لاسونه کړمه پورته تۀ آمین ووایه
جانانه! خدای دې کړي ړانده تېول دښمنان د وطن

# د اسد څلـــورویشتـــمه

تا د ناټو مور کړله بوره او وډاره دې کړه
درته سلام کوم طالبه چې بې پلاره دې کړه
دلته څلورویشت د اسد ستا د غیرت نخښه ده
ځکه چې سخته زندګي وه په کراره دې کړه
ته د مډال لائق یې ته د لوی انعام مستحق
درسته ناټو دې پر ګونډو کړه او فراره دې کړه
دلته راغلې وه ناټو د تور ښامار په شاني
تا په راتګ کړله پښېمانه شرمساره دې کړه
تا د اولس عزت محفوظ کړو د خپل سر په بیعه
دنیا دې ټوله کړله ویښه او هوښیاره دې کړه
چې څوک راځي دلته نو لار د تګ دې هم و ګوري
طالبه! ورکه له اغیار د تېښتې لاره دې کړه
قریشي صاحب؛ طالب ستایې په قوت د قلم
زړه کې دې پټه مینه وه چې را اظهاره دې کړه

# ستـــــرګـــي

چي مــــي ليـــدلي واى يـــو ځلـــي د جانان، سترګي
ما بۀ هېر کړي نۀ واى هيڅ وخت د خپل ګران، سترګي

تـــول ارمانـــونـــه مـــي پـوره دي دا ارمـــان لا پـــاتي
چي را ښکاره کـړي خوب کي يو ځل قهرمان، سترګي

زمـا د زړۀ ځـــخه غـمـــونه بۀ تـــول کـــډه وکـــړي
چي را نصيب کـــړي ذوالــــجـــلال د قدردان، سترګي

تـــوري تيـــارې شـــولـــې سبا، نفرت رخصت واخيستی
چي کـــړلـــې خـــلاصي پاک نبي آخر زمان سترګي

د قريشي صاحـــب قسمته دا احسان خـــو وکړه
يا ديـــدن راوه د زړګـــي يـــا کـــړه قربان، سترګي

# پــه وطـــن کـــې

دغمـــونـــو ورځې شپې وې په وطن کې
هـــره ورځ بـــه جنازې وې په وطن کې
هرمحفل به مو په اوشکو باندې سر وو
تل دغم ډکې کیسې وې په وطن کې
ماشـــومـــان به مـــو لـــه ډاره ژړیـــدله
نیمـــه شپه کې بـــه چاپې وې په وطن کې
دلته ډیر ګـــلان د ډرون ګـــوزار خوړله
تل بمبار مـــو مـــدرسې وې په وطن کې
دزلـــمـــیو بـــرکـــت ووچـــې ازاد شـــو
دمـــلالې خـــور تپـــې وې په وطن کې
سنـــګـــرونـــو کې غـــازیـــان مـــو وسیدله
شـــهـــادت وو زمـــزمـــې وې په وطن کې
اې قریشي؛ شکر چې شوې ختمې
دپـــردیـــو دسیســـې وې پـــه وطن کې

# د خـــدای پـــامـــان

بخشش دې وي نيمګړې زمانې د خدای پهٔ امان
سوې پاته د ژوندون هري ګېلې د خدای پهٔ امان
ما خپل اصلي مالک تهٔ روح سپارلی دی ورځم!
ملنګه لاس اوچت کړهٔ راپسې د خدای پهٔ امان
دنيا کې مې بې قيده زندګې وه نهٔ لېده
آشنا چې راتهٔ و نهٔ کړې ښېرې د خدای پهٔ امان
ديدن مو نور فانې دی بې لهٔ ورځې د حساب
پهٔ صبر شه قربان ګرانې ادې د خدای پهٔ امان
کهٔ هر څومره وروستی مې لهٔ فراقه سوې خبر
مزار تهٔ بهٔ مې خامخا راځې د خدای پهٔ امان
ناځوانه بيلتانهٔ يوړم تنها پهٔ لوی سفر
دا جنتې غمجنې مشاعرې د خدای پهٔ امان

# نعـــت ( لټوي )

خيالونه مې الوتي، په هوا دې لټوي
حبيبه! مباركه، په ژړا دې لټوي

وصال ته دې يم تږی، له مودو مودو راهيسې
زه مړ يمه، قربانه! زما سا دې لټوي

د سپين جبين خاونده! مدني خيرالابراره!
صفا درپسې ګرځي او مروا دې لټوي

ته ووايه چې کله به نو ختم انتظار شي؟
فکرونه مې مرغان دي، پر سما دې لټوي

قريشي صاحب؛ ته ورکړه يو ديدن، چې لږ ارام شي
مجنون په څېر راغلی، پر صحرا دې لټوي

# پنجـــابیـــان

دتـــور مـخـــو پـنـجـابیانو سره جنګ کړو

دهــیواد پر هـــره لــوېشته بانـدې ننګ کړو

انـــتـــقـــام دخـــپـل ولس بـــه درنـــه اخلو

اسلام اباد به دې په وینو بانـدې رنګ کړو

بـــېله ربـــه سرټــیــټــي وچـــاته نه کړو

راژونــدی بـه دعـمــر دتـوري شــرنګ کړو

د وطـــن دفـــاع دسر په قـمـت مـــوږ کړو

هــردښمن بـــه رایـلــه مـــوږ دګـــړنګ کړو

اســـوېلی دګران یـــتـــیـــم یـــو پـارولي

نــور دمـه نشته راځی چې ځو غورځنګ کړو

محترمــــــه؛ سپین بـــیرغ راواخله

پښتون خوا په هسکو غرو باندې بې دنګ کړو

# رســــول اللـــــه

درود دي وي سلام دي وي پرتا رسول الله

هر دم هره شپېه او هره ساه رسول الله

تېغر د تاریکو له سر زمین په تېولېدو سو

چې کله دي حضور راووړ اقا رسول الله

که ځمکه که سما که انس او جن دي

پیدا دي ستاله رویه مصطفی رسول الله

ستا توري توري زلفي لکه تکه توره شپه

ځنګېږي دي په سپین مخ والضحی رسول الله

خاتم الانبیاء یې او امام الانبیاء یې

احمد یې محمد یې مجتبی رسول الله

زه قریشي دي یمه تږی له مودو مودو راهیسي

یو جام راکړه د وصل مقتدا رسول الله

# مــــور جانـــــه

موريٍ ستا د ژوند يادونهٔ مېٍ پهٔ زړهٔ دېٍ
ستا را پاتېٍ ارمانونهٔ مېٍ پهٔ زړهٔ دېٍ

څهٔ پهٔ جار،قربان نازو کېٍ دېٍ را لوی کړم
هغه ټول رنګين لفظونهٔ مېٍ پهٔ زړهٔ دېٍ

د نهٔ شتون احساس دېٍ مات کړمهٔ لهٔ دردہ
ستا د څنګ خواږهٔ وختونهٔ مېٍ پهٔ زړهٔ دېٍ

مهربانېٍ موريٍ! ژوند بېٍ تا ژوند نهٔ دی
کهٔ هر څومره ارزښتونهٔ مېٍ پهٔ زړهٔ دېٍ

قريشېٍ؛ دېٍ لهٔ احســـــان يم پوروړی
داستا ټوله احسانونهٔ مېٍ پهٔ زړهٔ دېٍ

# مـــاشـــومـــان

ښوونځي ته ځي روان دي، ماشومان دي

هر یو ګام یې د بریا په لور روان دی
دوی راتلونکي اتلان دي، ماشومان دي
ځي پر پلونو د نیکونو یې قدم ږدي
د میرویس، ابدال لمسیان دي، ماشومان دي
د سبا لپاره وژني تورتمونه
تورو شپو ته څراغان دي، ماشومان دي
په ادب، اخلاق او پوهه به لویږي
د ملت ستر پاسبانان دي، ماشومان دي
د وطن د علم باغ ته به رنګ راوړي
لکه ستوري د اسمان دي، ماشومان دي
زه قریشي، ویاړم کوم په دوي
چې پر حق باندې ګویان دي، ماشومان دي

# رســــول الله

اقا مې يې دلبر مې يې ځيګر رسول الله
قربان مې شه له تا نه مال او سر رسول الله
له تا سره مې مينه ده په تا باندې شيدا يم
حسينه له سپوږمۍ ستورو او لمر رسول الله
د حسن او اخلاقو او وفا نه لـــرې سيال
لوړ شان او مرتبه لــــــرې بهتر رسول الله
دا ځمـکې آسمانونه فريښتې جن او بشر
پـــر تا وايــــي درودونه معتبر رسول الله
امام المرسلين يـــې رحمت اللعالمين يې
محبوب د رب منان يـې پيغمبر رسول الله
چې وه مې کړې په ورځ کې د قيامت شفاعتونه
رانيسم دې لمــــــن خيرالبشر رسول الله

# مـــــومينـــــه

ګوره پښېمانه به شي مکوه ګناه مومينه
درنه پاتيږي کنه دا فاني دنيا مومينه
ظلم په خپل ځان کوي ګوره ده چا هيڅ نکوي
هميش دي بار وي ده ګناه پيټي په شا مومينه
ته ده هوس په دام کي ګير او خواهشاتو کي ګير
څنګه دي هيره ده قربان وايه عقبا مومينه
ده دي دنيا دا مجازي او دروغجني ميني
ده هيره کړي درنه مينه ده‌الله مومينه
ګريوان کي وګوره له ځان سره حساب وکړه
راباسي کومه ده تير کړي ژوند مانا مومينه
ځان برابر کړه ده الله او ده رسول په لاره
زه قريشي به کوم تل درته دعا مومينه

# وشـــیـــنـــدم

د زړه رازونه به د للمې په میدان وشیندم
څو اومیدونه به په تمه ده باران وشیندم

د فکر تال کې کله داسې. دنیا جوړه کړمه
دسته دسته ګلان په لاره د جانان وشیندم

ته په شپیلۍ کې زمزمه کوه غزل مې وایه
زه به بیتونه او ټپې په یه قربان وشیندم

یا خوبه ټول. عمر. نیمګړې نیمه خوا وسمه
یا به د یار په مخ خواره واره زلفان وشیندم

لږ مې قلم ګوتو کې پریږده رانه مه یې اخله
د مینې تخم به په ټول پښتونستان وشیندم

هغوي چې سوله راویستلي ده قربان یی شمه
او په ژړا به ورته وښکې په ګریوان وشیندم

طالبه جار دي شم آرام ارامی دی راوړه
نیازی په پښو کې درته ځان وشیندم

# ښــــه نــــه دي

ستاد وصال په تمه مري هغه بیمار ښه نه دی
باور دې وشه درپسې دی نـــا قرار ښه نه دی

وه قـربانکه ولې داسې یــې پـرېـږدې انتظار
له درد به مړ شي یاره دومره انتظار ښه نه دی

دزړه په رنځ دې کړو اخته درته ښېرې به وکړي
ازار یې مـه اخـلـه رنځور زړګي ازار ښه نه دی

طبیبه ستا په دوا نه رغـېـږي مـري دا سړی
له کاره وتی او دمات زړه یې پرهار ښه نه دی

هغه خوستاپه سر دژوند تېولې خوښی لیلام کړې
ته یې پرېږدې پرنیمه لاره کې داکار ښه نه دی

که څومره خوږ شي خو خپلیږي نه زړګکه واوره
ګــوره رقـیـب باندې قریشي اعتبار ښه نه دی

# شعـــــر

ما کوشش وکړو چې ودې کړم دیدنه
خو څه وکړمه ترمینځ مو فاصلې دي
ته تر خوارو لاندې پروت یې څواني مرګه
درپسې زما دزړګي ستنې ګګې دي

چې بې برخې ستا له دید شومه زړګیه
زړه مې مات شودزړه غم مې یَو په سل شو
ته په هسکه غاړه لاړې تر باداره
زما دزړه هر یَو ارمان درپسې شَل شو
ستا بیلتون لکه قیامت ؤ څه خبر یې
ستا بېلتون غشي مې وتي له سینې دي

چې رایاد مې شې په زړه قدم در واخلم
ړنګ اوبنګ شم دروان ستا ترمزاره
بیرغونه او مزار خاورې دې ښکل کړم
څـو ګېلې د زړه له درده وکـړم یاره

د وطن په ازادي کې زه بې تا یم
په زړګي مې د هجران بلې لمبې دي

زه به صبر کړم که صبر مې زړګی شي
لکه زړه داسې هر دم راته یادېږې
ستا تصویر مې دزړګي پر دېوال نقش دی
ځواني مرګه زړه له زړه چېرته هېرېږي
ته خو لاړې دجنت حورو دلدار شوې
درپسې د ارمانو مې جنازې دي

ستر ارمان دې پوره شوی کاش ژوندی وای
سپین بیرغ په کابل جان باندې رپان شو
ستا یاران فاتحانه له سنګر راغلل
له پردیو نه ازاد افغانستان شو
درپسې دا قریشي ځکه رنځور دی
ستا په نشتون یې دژوند شېبې ترخې دي

# رســــــول الله

د حســـن پــه رښـا يې شو جهان رڼا رڼا
دجهل تورو شپو ته شــو زوال رسول الله ﷺ

شغلې دلمر راپورته شوې روښانه شو جهان
تياره ځِهان ته شولو بَل مشال رسول الله ﷺ

ستايلی رب منان دی په طه او په ياسين
په حسن کې ممتاز دی بې مثال رسول الله ﷺ

سلام کړی سپوږمۍ او لمـر جمال ته د جانان
ورکړی ورته رب ووستر جمال رسول الله ﷺ

ته راکړه يو ديدار دې تږی زړه مې کړه اوبه
ته غواړمه دې ديدار له زالــجـلال رسول الله ﷺ

موږ شوی له عجم يم ته مې وه غواړه روضې ته
قــربان مې شه له تانه سراومال رسول الله ﷺ

زه محترم دې غواړمـه ديـدار د زړه قــراره
مشفـــق شه دبدري په رنځور حال رسوالله ﷺ

# وطنـــي شعـــــر

ستا جوړونه کـوو  ستابه ساتنه کوو

وطنه  ستا د اوجود  به  درملنه کوو

په خپلو وینو خولو - دې جوړه وو هېواده

تـا د نړۍ له ښارو - ښکلی کوو هېواده

وینې  دزړه درکوو - تاته هر څه کوو

درته یو  ژمن  وطنه درسره ژمنه کوو

راسره ودرېږه ته - کلک ګام په ګام اولسه

ځوک دې غلت چې نکړي- کوه ډېرپام اولسه

لاس د کومک راکوه - او ښه یې کلک راکوه

له تانه ځار اولسه له تا مننننننننه کوو

متې رانغښتي زلمو - قطار قطار ولاړدي

ستا رغېدو ته ګرانه - زلمي تیار ولاړدي

لري ګوهرپه غېږکې - لعل سره زرپه غېږکې

ستاله دې غرو اودرو -  دقیق کتنه کوو

چې نړیوال شي حیران- ستاوښکلا ته ګرانه

شې به سمسور وطنه - بیاهرې خواته ګرانه

تا په مثال د جنت - تا جوړه وو په الفت

ستا جوړه ولوته ځار - ښه پاکونه کوو

ستا ارتقاء غوړو مونږ- ای د ننګو ټاټوبیه

چې مخ په وړاندې دمرومې-دغیرتو ټاټوبیه

له شریعت برخمن - کړې امارت برخمن

قریشي وایمه - ستا به ستاینه کوو

# صفت د محمد رسول الله

قرار به مې زړګی شي که نصیب یې ستا کاته شي
حـبـیـبـه ستا دیدن به مې ملهم د رنځور زړه شي

تـر څـو بـه ګـرزوم د زړګـي للمـه داسې وچه
باران دې د دیـدن راتـه نصیب کـړه چې اوبه شي

ستا غوارمه وصال رب جل جلاله نه اوږدو اوږدو سجدو کي
سعید به شم جانان که نصیب مې ستا لیده شي

د هـجر اور دې سوی یم عـجـم لارو کـڅـو کې
جانانه ستا د ښکلو سـتـرګو دید به کله وه شي

ستا نوم په اوربدو مې ګنګه ژبه په خواږه شي
له نوم سره دې صل الله جاري زما په خوله شي

چـې نه دې یـادوي او نـه درود دربانديې وایي
قریشي؛ وایـمه حبیبه دغه زړونه دې تهول مړه شي

# له کاره باســـی

د زړګـي درد د یـار نـشـتـون سړی له کاره باسي
ناست انتظار او ورک شبخون سړی له کاره باسي

شېبې شـماري او انـتـظار د ورک لالـي زړګیه
په ورکــو لارو یې لټون سړی له کاره باسي

رنګه ویـجاړه د زړه خونه او رنګ شـوی زړګی
داسې حــلاتـو کې ژوندون سړی له کاره باسي

د تللي یـار پـاتـې تصویر نرمه مُسکا په شونډو
زورغواړي داسې کس بېلتون سړی له کاره باسي

چې دې وي زړه کې لکه زړه درنه مرګی یې واخلي
د ژوند په لار یواځې یُون سړی له کاره باسي

دومــره بې وسه شي له درد چې په سلګو وژاړي
محترم صاحب؛ ســـر په زنګون سړی له کاره باسي

# مجاهـــــده

دا خاوره پښتنه د او بچي يې دي ښاغلي

په بدنيت چې راغلي له دې خاورې يې مړه وړي

تاريخ يې راشه وګوره منصور اوکه عمر دی

تاريخ د ننګ غيرت لري جهان کې ځليدلي

قانون د پردو نه مني قانون يې پاک قران دی

لا سترې نـدی ځي جـهـاد په لاره او روان دی

دوخت په فرعونيانويې کړې ميندې ډېرې بورې

بچي يې د نمرود دلته پرېمانه دي وژلي

دا خاوره قېمتي ده د شهيد په وينو رنګ ده

دا خاوره باطل نه مني باطل سره په جنګ ده

زمونږ ميندې جهادي دي اتلان روزي په غېږکې

بچي يې دالله دين ته جهاد ته وقف کړي

په ډېرو قربانيو او ستړيا ؤ دي راغلي

زړګیه مجاهده ګوره پام کړه یې ښاغلی

غوښتنې دې دنَفس یاره درنې دي خطانشې

چې پام دې وي په ډېرو قربانیو یُو راغلي

درغاړې مسؤلیت ادا کول غواړي زړګیه

شهیدلالي ارمان یادکې ساتل غواړي زړګیه

چې هېر نکړې ای ٔ قریشي؛ شهیدان او یتیمان یې

سرونه یې قــربان کړل د ابد په سفر تللي

## بیلـــــه یاره

د درد څړیکه ناقراره بې له یاره

دا به سخته شي بیماره بې له یاره

تنهایې مې په پیغور را سره مل وه

چې روان ومه په لاره بې له یاره

# رســـول الــلــه

روضې تـه به دې کلـه زه درځم رسول الله
زه دغـه یــو ارمان پــه زړه لرم رسول الله

ارمان مــې محمد عربي دادی که پوره شي
موړ کله ستا وصال باندې به شم رسول الله

زما ده ژوند به کله وي هـغــه سحنه جانانه
چې زه د بیت الله نه طواف کړم رسول الله

په زړه یمه رنځور عجم کې زړه مې ناقرار دی
وطن ته دې یوزل درتلل غواړم رسول الله

دیـدن پـسـې داستا حبیبه شـومـه لېوانی
دیـدن بـه دې نـو کـلـه زه کوم رسول الله

زه محترم عجم کې تنګ یمه حبیبه
داستا تر ښکلي ښار کډه دروړم رسول الله

# وکـــــړه

چا مو ملګرتیا وکــړه او چا مــو تماشه وکړه

ځـــوک به تــر سنګره تلل او چابه بهانه وکړه

ځوک به په پاسته پالنګ ویده ؤ تر سهار پورې

چابه د دښمن په تمه غره لمن کې شپه وکړه

دومره ؤ خوشحاله مو په مرګ باندې دا بعضې خو

مونږ به لا ژوندي ؤ زمونږ د مرګ بَی اوازه وکړه

ځو په شمار سړي ؤ دغــې لارې تــه راوتي ؤ

کلکې عقیدې وې په خالې لاس یې جګړه وکړه

هاغو چــې ساتلو سر او مــال له حقې لارې نه

هاغو نن له ټــولو د جهاد ستـــره دعــوه وکړه

څه قیمتي وخت ؤ ای قسیمه تربنه پاتې شوه

نه خو شهیدان شول نه زخمیان نه یې ګزمه وکړه

# ښایسته مصری

په زړه مې بلې سرې لمبې شوې
ډېرې ژړا مې سترګې سرې شوې
ده زړګي وینې مې تر خولې شوې
په ما راوستي ســـــتا بلتون داسې حالونه
لکه پتنګ پـــــه اور کباب شوم
زه خـــــو په تاپسې بیتاب شوم
درپســـــــې مات لکه ګلاب شوم
رابانـــدې کړي ستـــــا ظالـــم هجران وارونه
په زړه مـــــې ته رایادېـــــدلې
اشنا لـــــه یاد مـــــې نه وتـــلې
ته چـــــې لـــــه ما جدا کېـــدلې
په مخ مې جوړ شـــــــولو د اوښکو قطارونه
ظالم مرګـــــي رانـــه خزان کړې
شهیده زما یې ډېـــر ارمان کړې
زما له ســـنګ نه یې روان کړې
راتـه دې پاتې دي اوس ګونګ ګونګ تصویرونه

شوم ببـر سـر څیـرې ګریوانه
نـه لـــرم نـــور ده زړه درمانه
کـړم دې بلـتـون ګرانه حیرانه
راکــوي وخـــت په وخـــت درانه دردونه
خوند مې دی تللی ده ژوندونه
ناست یمـه سـر زه پـه زنګونه
تـــه شــوې رایـاد راتــه پرونه
ما لېوانی کــړي ســتـا خواږه یادونه
راشه کــنــه درپــــســې مرمه
وینې دزړه مـــې نــورې خورمه
یابــه اخــېــر لـېــوانی شمه
خـــیــر دی یـــوزل دې راتـــه راکــړه دیدونه
ناست یمـه زه پـــه هغه لاره
تـــاتــــه کـــومـــه انــتـظاره
کـلــه بــه راشـــې زمــا یاره
چـــې دې پــرون رانه اخـیـستي روخصتونه
غـمـودې کــړمــه یاره ستړی
زه یې پـــه ژوند کړم لکه مړی
پـــه زړه یــې زه یـمـه خـوړلی
زه قریشي؛ تـــرڅـــو بـه کــړم ویرونه

# زه بــه نــه یــم

ته بـــــه مې ارمان کوې او ژاړې زه به نیم
مــرې به راپسې دیدن به غواړې زه به نیم
زه به درنه ورک یم تبه ګورې مې هر خواته
بیابه ده راتلو لارې مــــــې سارې زه به نیم
کـــړې بــه ارمانونه درنه مړ به یمه زه یاره
زما تصویر بــه زړه پورې رانغاړې زه به نیم
وبه مې اعلان شي یوه ورځ ده جنازې یاره
بیا به یې په خپلــو غوږو واورې زه به نیم
کله چې خبر شې زه دتور لحد میلمه به یم
وې به مـې په سر خاورې امبارې زه به نیم
زه اوته اشنا چــې به یو ځاې په هغه لاره تلو
ته به یې روان پــه هغـــې لارې زه به نیم
قریشي؛ بـــه بندیوان ده تور لحد یمه
رابــه مــې شـــې قبر ته ولاړې زه به نیم

# استقلال مبارک

چېږ ده وینو په قیمت دې وه راوړې ازادي
ای شهیده درته وایمه نن بیا مبارکي
خور ده امن لوی ځادر دی نن په ګران افغانستان
هریوښه په خوند اومینه اخپل ژوندپکې کوي
هیوادوالو افغانانو غیرت مندو باعزتو
خیال کوی د شهید وینې دي هم ډېرې قیمتي
په هواکې هم مرغانه له اخپل ژونده ډاډه دي
لدې امن خوشالی نه هم له ژوند څخه خوند اخلي
دا له شل کلونه وروسته استقلال مو مبارک شه
باغیوره افغانانو هم دا واړه خپلواکي
قریشي؛ هم دنده ستا ساتل دي ګران وطنه
نه پرېږدمه یې خیانت ته که خپل اوکه پردي

# انقلاب وختونه

دانقلاب ترخه وختونه مې په زړه پاتې دي
چغې سلګۍ د بېلتانه مې لاپه خوله پاتې دي
رانه يې و خواږل نښتر نښتر ځوانان انقلاب
ګونګ تصويرو ته يې د اوښکو ډک کاته پاتې دي
چې له يو بل قربانېدل له سره تېريو بل ته
اوس يې پر قبر د بيرغ تش رپېده پاتې دي
چا به هير کړي وي اوڅوک به يې اوس هم يادوي
ها د سنګر زاړه ياران په کور درانه پاتې دي
هر يو قدم په احتياط اخله په احتياط باندې کړده
شهيد په وينـــو د سنګر کانې لامده پاتې دي
دهر شهيد هر يو داستان ته تويه ومه اوښکې
سترګې ړندې شولې له اوښکو مات بانه پاتي دي
قريشي صاحب؛ تـــللي ياران کله هېرېږي رانه
يادونى دروسه زما په زړه کې مېلمانه پاتې دي

# مـــــدنــــي

زه لـــه عجم نه به درزمه ستا تر ښار مدني
په درد اخته زړګـــی به هلته کړم قرار مدني

داستا تر کلي چــې زه درشمه تواف وکړمه
ايله پـوره به مې ارمان شي زما دلدار مدني

کاشکې غلام دې واى دکلي محمد ﷺ عربي
هــم به غلام وم هم به ومه چوکيدار مدني

خدايه زه کله به ورځـمـه دجانان وطــن ته
چې يې ديـدن وکـړم په مينه ده مزار مدني

شم دې قربان زما محبوبه شم لوګی درنه زه
درنه قربان شم يو وار نه په هزار وار مدني

داستا ده حُســن مثال نشته په دونيا حبيبه
پيدا مو نکړو ستا جمـــال خيرالابرار مدني

ســـــتا شفاعت له الله غواړم هيبتي ملنګه
شي به نصيب إن شاء الله يم اميدوار مدني

# محمـــد رســول اللــه

سلام صولات زه درلیږم په احترام رسول الله
وې دې تـــحفې د درودو پرتا مدام رسول الله
عرش اوسماء شمس او قمر دي ستارله رویه تړول پیدا
درب محبوب وې رب درکړی لوړ مقام رسول الله
که ستا وجود نه وای پیدا وجود به نه وای اوس زما
رب رالیږلی یې رحمت درب جل جلاله انعام رسول الله
د ښکلا حد پر تا تمام وو بې مثال وې بې مثال
رب یې ستایلی په سپیڅلي پاک کلام رسول الله
خلک خو وایي یوسف ښکلی وو بې حده ښکلی
خو زه وایم وو حُسن پرتا باندې تمام رسول الله
نسیمه کله چې ورزې د جانان کلي تر حرم
ډېر په آداب تر جانان یوُ مې سه سلام رسول الله
ورځ په محشر د میدان ما چي نکړې هېر له شفاعت
شه مې شفع او د کوثر راکړه یو جام رسول الله

# تیــــر شــــو

بس څه ۀ ستا دیدن لکه یو خوب ۀ هسې تېرشو

راغلی مې په زړه بیا لېونتوب ۀ هسې تېر شو

سکون ۀ زنــده ګي کې درد مو چېرته پېژنــدلو

بیا نه راځي عجیبه ماشوم توب ۀ هسې تېرشو

خوښي يې ډېــره کمه وه باور وکــړه زړګیه

غـمونو کې راګیر مـې زلمیتوب ۀ هسې تېر شو

لا پاتې مې ارمــان د زړګــي هـغســې ارمان شو

ژوندون مې په غمونو کې سرکوب ۀ هسې تېرشو

وخ څومره زر روان شولې له څنګ مې نازولیه

هېس تم نشو زړګی مې پرې خړوب ۀ هسې تېرشو

له یاد سره رنځـور دې شـم محترمه زما زړګیه

حیران یمه چې څنګه مئین توب ۀ هسې تېرشو

ستا د ستم ستا د جفا خبرې چاته وکو

دا چې په زړه مو بوج دی دا خبرې چاته وکو

مونږ خو د خلکو د زیاتي خبرې تاته وکو

دا راته ووایه چې ستا خبرې چاته وکو؟

﴿قریشي صاحب﴾

